که چېرته تاسو په الله تعالی په حقه سره توکل وکړئ، نو داسې روزي به درکړي لکه څرنګه يې چې يو مرغه (الوتونکي) ته ورکوي، چې سهار مهال خالي نس - له ځالې - وځي او ماښام مهال ښېرته په ډک نس سره - خپلې ځالې ته - راګرځي

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې هغه له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې ويېل يې: «که چېرته تاسو په الله تعالی په حقه سره توکل وکړئ، نو داسې روزي به درکړي لکه څرنګه يې چې يو مرغه (الوتونکي) ته ورکوي، چې سهار مهال خالي نس - له ځالې - وځي او ماښام مهال ښېرته په ډک نس سره - خپلې ځالې ته - راګرځي.

[صحيح دی] [او ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم پر مونږ ټينګار کوي چې د دنيا او دين په چارو کې د ګټې د لاسته راوړلو او ضرر دفع کولو لپاره پر الله جل جلاله توکل وکړو، ځکه چې له هغه پاک ذات پرته بل څوک د ورکړې، منع کولو، ضرر او يا ګټې رسولو واک نه لري. او دا چې په الله تعالی له ږېښتوني باور سره هغه اسباب وکاروو چې ګټې راجلبوي او ضرر دفع کوي، نو کله چې مونږ دا کار وکړ الله تعالی به مونږ ته داسې روزي راکړي لکه هغه مرغانو ته يې چې ورکوي چې سهار وختي وړي وځي او ښګا مهال ښېرته ډکې خټې راګرځي، د الوتونکو دا کار د رزق د پلټنې پسې د اسبابو کارولو يو ډول دی، پرته له دې چې سستي او تمبلي وکړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4721